# دَ فيليپيانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

١ ١ دَ پولوس اَؤ تيموتيوس له طرفه څوک چه دَ مسيح
عيسىٰ خادمان دی، دَ فيليپی دَ ټولو هغه پاکانو په نُوم چه دَ
عيسىٰ مسيح سره يووالے لری، سره دَ دوئ دَ مشرانو اَؤ
خادمانو.

٢ په تاسو دِ زمُونږ دَ پلار خُدائے اَؤ عيسىٰ مسيح له طرفه
فضل اَؤ سلامتی نازله وی.

## دَ فيليپيانو دَ پاره دَ پولوس دُعا

٣ ما ته چه هر کله تاسو رایاد شئ نو دَ خپل خُدائے شکر
وباسم. ٤ اَؤ په هره يوه دُعا کښے چه زَهٔ ئے ستاسو دَ
پاره غواړم تل ډير په خوشحالئ تاسو ټولو دَ پاره خواست
کوم، ٥ ځکه چه تاسو دَ اولنئ ورځے نه تر ننه پورے دَ
زيری په خورولو کښے له ما سره شريک پاتے شوی يئ.
٦ اَؤ زما دَ دے خبرے په باب کښے باور دے چه چا چه
په تاسو کښے نيک کار شروع کړے دے، هغه به ئے دَ
عيسىٰ مسيح تر ورځے پورے پُوره کړی. ٧ ځکه خو
واجب دی چه زَهٔ ستاسو ټولو په حقله هم دغسے خيال
وکړم دَ پاره دَ دے چه تاسو زما په زړهٔ کښے يئ، اَؤ زما دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قيد اَؤ دَ زيرى دَ جواب اَؤ په ثبُوت کښے تاسو ټول ما سره
دَ خُدائے په فضل کښے شريک يئ. ۸ خُدائے زما گواه
دے چه زَۀ دَ عيسىٰ مسيح په شان په مينه کښے ستاسو ټولو
دَ مُلاقات آرزومند يم.

۹ اَؤ دا دُعا کوم چه ستاسو مينه اَؤ عِلم به هر شان دَ
پوهے سره نوره هم په زياتيدو شى، ۱۰ چه تاسو ښه نه ښه
فيصله کولے شئ اَؤ دَ مسيح تر ورځے پورے په صفا زړۀ
پاتے شئ اَؤ تيندک ونۀ خورئ. ۱۱ اَؤ ستاسو ژوند دِ دَ
صداقت په ميوه چه دَ عيسىٰ مسيح په وسيله ده، معمُور وى،
چه دَ خُدائے جلال ښکاره شى اَؤ دَ هغۀ ستائينه کيږى.

## ما ته ژوند تيرول مسيح دے

۱۲ اَئے ورُونړو! زَۀ غواړم چه تاسو خبر شئ، په ما چه څۀ
تير شول، هغه دَ زيرى دَ ترقئ په وجه وشول، ۱۳ تر دے
چه دَ قيصر دَ عسکرو په ټوله پلټنه کښے اَؤ باقى په ټولو
خلقو کښے دا خبره خوره شوه چه زَۀ دَ مسيح دَ پاره قيد
يم. ۱۴ اَؤ څوک چه په مالِک کښے زمُونږ ملگرى دى اکثر
زما دَ قيديدو په وجه زړۀ ور شول اَؤ بے ويرے دَ خُدائے
کلام په آؤرولو کښے زړه ورتيا ښکاره کوى.

۱۵ ځنے خو په حسد اَؤ دَ جگړے په وجه دَ مسيح پيغام
آؤروى اَؤ ځنے به نيک نيتئ سره. ۱۶ دوئ دَ مينے په وجه
داسے کوى اَؤ په دے خبر دى چه زَۀ دَ زيرى دَ جواب
ورکولو دَ پاره ټاکلے شوے يم. ۱۷ خو نور دَ بے اِتفاقئ په
وجه، نۀ چه په صفا زړۀ سره، بلکه په دے خيال چه زما په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قید کښې ما ته مصیبتُونه پیدا کړی.

۱۸ خو خیر دے، په هر شان دَ مسیح پیغام آؤرولے شی،
هغه که په بهانه وی یا په صفا زړهٔ، اَؤ په دے زَهٔ خوشحاله
یم. هو! اَؤ خوشحاله به شم، ۱۹ ځکه چه زَهٔ پوهیږم چه
ستاسو په دُعا اَؤ دَ عیسیٰ مسیح دَ رُوح په مدد به آزاد شم.
۲۰ ځکه خو زما دَ زړهٔ آرزو اَؤ اُمید دغه دے چه زَهٔ په څهٔ
خبره کښې شرمنده نهٔ شم، بلکه زما دَ زیاتے زړه ورتیا په
وجه لکه څرنګ چه زما په وسیله همیشه دَ مسیح جلال
ښکاره شوے دے، هغه شان به اوس هم کیږی، که زَهٔ
ژوندے یم یا مړ شم. ۲۱ ځکه چه ژوندے پاتے کیدل زما دَ
پاره مسیح دے اَؤ مړ کیدل ګټه. ۲۲ خو که زما ژوندے
پاتے کیدل زما دَ کار دَ پاره فائده لری نو زَهٔ نهٔ پوهیږم چه
کُوم یو خوښ کړم. ۲۳ زَهٔ په دواړه طرفه نښتے یم. زړهٔ
خو مے دا غواړی چه رُخصت شم اَؤ مسیح ته لاړ شم ځکه
چه دا ډیر زیات غوره دے، ۲۴ خو زما په بدن کښې پاتے
کیدل ستاسو دَ پاره ډیر ضروری دی. ۲۵ زما په دے یقین
دے اَؤ دَ دے دَ پاره زَهٔ پوهیږم چه ژوندے به پاتے شم، بلکه
تاسو ټولو سره به اوسم چه تاسو په ایمان کښې ترقی وکړئ
اَؤ په کښې خوشحاله اوسئ، ۲۶ اَؤ تاسو په ما فخر کوئ
هغه دِ تاسو ته زما په بیا راتلو په مسیح عیسیٰ کښې زیات
شی.

۲۷ صرف دومره کوئ چه ستاسو چال چلن دِ دَ مسیح دَ
زیری په شان وی. که زَهٔ راشم اَؤ تاسو وګورم یا رانهٔ شم،
ستاسو حال واؤرم چه تاسو په یو رُوح کښې قائم یئ اَؤ دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِنجیل دَ ایمان دَ پاره په یو زړهٔ ښه خواری کوئ. ۲۸ اَؤ په
هیڅ خبره کښے هم دَ مُخالفانو نه ویریدُونکی نهٔ یئ، نو له
دے نه به دا صفا ښکاری چه هغوئ به هلاک شی خو دا
ستاسو دَ پاره خلاصُون اَؤ دا دَ خُدائے له طرفه ده. ۲۹
ځکه چه دَ مسیح دَ خاطره په تاسو دا فضل وشو چه نهٔ
یواځے په هغهٔ ایمان راؤړئ بلکه دَ هغهٔ دَ خاطره تکلیفُونه هم
وزغمئ. ۳۰ اَؤ تاسو هم هغه شان ښه خواری کوئ څنګه
چه مو زَهٔ په کولو لیدلے وم اَؤ اوس هم آؤرئ چه زَهٔ هم هغه
شان کوم.

## دَ مسیح عاجزی اَؤ لوئے والے

۲ ۱ نو بیا چه مسیح تاسو ته دا تسلی درکولے شی چه دَ
هغهٔ دَ مینے نه تاسو زړهٔ ور شئ اَؤ په تاسو کښے دَ رُوحُ
القُدس شراکت، زړهٔ سواندے اَؤ همدردی وی، ۲ نو تاسو
زما خوشحالی پُوره کړئ چه په یو زړهٔ، په یو شان مینه اَؤ یو
خیال ولرئ. ۳ دَ خود غرضئ اَؤ بے ځایه فخر په وجه څهٔ
مه کوئ، بلکه په عاجزئ یو بل دَ ځان نه غوره ګڼئ. ۴ هر
یو دِ تش په خپل حال نه بلکه دَ یو بل په حال هم نظر ساتی.
۵ هم هغه شان خُوئ لرئ لکه څنګه چه دَ مسیح عیسیٰ
وو.

۶ هغه اګر که دَ خُدائے په صُورت وو دَ خُدائے سره
برابریدل ئے په قبضه کښے دَ ساتلو خیز ونهٔ ګڼلو. ۷
بلکه خپل ځان ئے دَ هغه ټولو اِختیارُونو نه خالی کړو اَؤ دَ
غُلام شکل ئے اِختیار کړو، اَؤ دَ اِنسان په شان شو. ۸ اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په اِنسانی جُسه کښے ښکاره شو، خپل ځان ئے عاجز کړو
اَؤ دومره تابعدار شو چه مرګ، بلکه دَ سولئ مرګ ئے
وزغملو. ۹ په دغه وجه خو خُدائے هم هغه ډیر سربلند
کړو اَؤ هغهٔ ته ئے هغه نُوم ویخښلو کُوم چه دَ ټولو نومُونو نه
اعلیٰ دے، ۱۰ دَ پاره دَ دے چه دَ عیسیٰ په نُوم هر یو
موجودات په سجده شی، خوا که په آسمانُونو کښے، یا په
مزکه کښے، یا هغه چه دَ مزکے دَ لاندے وی، ۱۱ اَؤ دَ
خُدائے پلار دَ جلال دَ پاره هره یوه ژبه اِقرار وکړی چه
عیسیٰ مسیح مالِک دے.

## په دُنیا کښے دَ نُور په شان وځلیږئ

۱۲ زما ملګرو! لکه څنګه چه تاسو دَ همیشه نه تابعداری
کړے ده هغه شان اوس هم، نه یواځے زما په موجودګئ
کښے بلکه دَ هغے نه ډیر زیات زما په غیر موجودګئ
کښے، په ویره اَؤ په رپیدو دَ خپل خلاصُون کار کوئ. ۱۳
ځکه چه خُدائے په تاسو کښے نیت اَؤ عمل دواړه دَ خپلے
نیکے اِرادے پُوره کولو دَ پاره پیدا کوی.

۱۴ هر کار بغیر دَ شکایت اَؤ تکرار نه پُوره کوئ، ۱۵ چه
تاسو بے عیبه اَؤ پاک شئ. په بد اَؤ بے لارے خلقو کښے دَ
خُدائے دَ کاملو بچو په شان ژوندُون کوئ اَؤ دَ هغوئ په
مینځ کښے دَ آسمان دَ ستورو په شان وځلیږئ، ۱۶ اَؤ دَ
ژوندون کلام پیش کوئ چه دَ مسیح په ورځ زهٔ فخر کوم چه
نهٔ خو زما منډه بے فائدے شوه اَؤ نهٔ زما خواری بے ځایه
لاړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ تاسو دَ خپل ایمان په سبب په قُربانۍ کولو زما خدمت
کوئ اَؤ کیدے شی چه زَهٔ دَ دے قُربانۍ سره شهید هم شم.
که چرے داسے وی نو زَهٔ به خوشحاله یم اَؤ ستاسو په
خوشحالۍ کښے شریک. ۱۸ تاسو ټول دغه شان خوشحاله
اوسئ اَؤ ما سره خوشحالۍ کوئ.

## تیموتیوس اَؤ اِپفرودیتوس

۱۹ که دَ مالِک عیسیٰ مرضی وی نو زَهٔ به تاسو ته ډیر زر
تیموتیوس درولیږم چه ستاسو حال په آؤریدو به زَهٔ هم
خوشحاله شم. ۲۰ ځکه چه دلته دَ هغهٔ نه علاوه بل څوک
داسے نِشته چه په صفا زړهٔ ستاسو دَ پاره فکر من وی. ۲۱
ټول په خپلو فِکرُونو کښے ډُوب دی، نهٔ چه دَ عیسیٰ مسیح.
۲۲ خو تاسو ته په خپله معلُومه ده چه تیموتیوس څنګه لایق
ښکاره شو، اَؤ هغه اَؤ زَهٔ دَ پلار اَؤ زوی په شان په خدمت
کولو کښے لګیا وُو چه زیرے خور کړُو. ۲۳ نو زَهٔ اُمید
کوم چه هر کله چه ما ته خپل اَنجام معلُوم شی نو تیموتیوس
به تاسو ته سمدستی درولیږم. ۲۴ زما په مالِک پوخ یقین
دے چه زَهٔ به په خپله هم زر درشم.

۲۵ خو اِپفرودیتوس تاسو ته واپس درلیږل ځکه ضروری
ګنړم، چه هغه زما ورور اَؤ دَ خدمت ملګرے اَؤ دَ یو سنګر
فوجی اَؤ ستاسو اَستازے دے چه زما حاجتُونه پُوره کړی.
۲۶ خو هغه دَ ستاسو ټولو لیواله دے اَؤ ناقلاره اوسیږی
ځکه چه تاسو دَ هغهٔ دَ ناروغتیا آؤریدلی وُو. ۲۷ بے شکه
چه هغه دَ ناروغتیا نه مرګی حال وو، خو خُدائے په هغهٔ
فضل وکړو، اَؤ صرف په هغهٔ نه، بلکه په ما هم چه په ما دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غم دَ پاسه غم نۀ وی. ۲۸ ځکه خو دَ هغۀ دَ درلیږلو خیال
نور هم زیات شو چه تاسو هم دَ هغۀ په مُلاقات خوشحاله
شئ اَؤ زما غم هم کم شی. ۲۹ نو بیا تاسو دَ هغۀ سره په
مالِک کښې لکه دَ ورور په زیاته خوشحالئ سره هر کلے
ووایئ. اَؤ دَ داسے کسانو عزت کوئ، ۳۰ ځکه چه هغه دَ
مسیح دَ کار دَ خاطره مرګ ته نزدے شوے وو، اَؤ هغۀ ځان
په خطره کښې اچولے وو چه ستاسو له خوا زما په خدمت
کښې کُومه کمی چه وه، هغه پُوره کړی.

## دَ رښتینئ صداقت

۳ ۱ نو اوس اَئے ورُونړو! دَ مالِک په یووالی کښې
خوشحاله اوسئ! ما چه تاسو ته اول څۀ لیکلی دی، دَ هغے
بیا بیا لیکل څۀ تکلیف نۀ ګڼم، اَؤ په دے کښې ستاسو
بهتری ده. ۲ دَ سپو غوندے سړو نه خبردار اوسئ چه بد
کوی، اَؤ دَ جِسم غوڅوُونکو نه خبردار اوسئ. ۳ ځکه چه
دَ خُدائے سُنت شوی خو مُونږ یُو چه دَ خُدائے دَ رُوح په
هدایت عبادت کوُو اَؤ په عیسیٰ مسیح فخر کوو اَؤ په جسم
توکل نۀ لرُو، ۴ اګر چه زَۀ خو په جِسم توکل کولے شم.
که څوک په خپل ځان دَ توکل کولو خیال لری نو زَۀ دَ هغۀ
نه هم زیات کولے شم. ۵ په اتمه ورځ سُنت شوم، دَ
اِسرائیل دَ قوم اَؤ دَ بنیامین دَ قبیلے نه یم، دَ عبرانیانو نه
عبرانی، اَؤ دَ شریعت له رُویه فریسی یم، ۶ دَ جوش په
نسبت دَ جماعت عذابوُونکے، اَؤ دَ شریعت دَ صداقت په
نِسبت بے عیبه یم. ۷ خو چه څومره خبرے زما دَ ګټے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وې، هم هغه ما دَ مسیح دَ خاطره نقصان وګڼلې. ٨ بلکه
ما دَ مسیح عیسیٰ دَ خاطره هر څۀ نُقصان وګڼلو، دَ دې دَ
پاره چه هغه زما مالِک دے، اَؤ زَۀ دَ هغۀ پیژندل دَ هر څۀ نه
زیات قیمتی ګڼم. دَ هغۀ دَ خاطره ما هر څۀ پرېښودل اَؤ هغه
ګندګی ګڼم چه مسیح وُمومم، ٩ اَؤ په هغۀ کښې ومُوندلے
شم، نه چه دَ خپل صداقت سره چه دَ شریعت په وسیله ده
بلکه دَ هغه صداقت په وسیله کُومه چه په مسیح دَ ایمان دَ
راوړلو په وسیله دے. اَؤ دا صداقت دَ خُدائے دَ طرفه دے
چه په ایمان حاصلیږی، ١٠ چه زَۀ دَ مسیح اَؤ دَ هغۀ دَ
ژوندی کیدلو قُدرت وپیژنم اَؤ دَ هغۀ سره په زغمُونو کښې
شریک شم اَؤ دَ هغۀ په مرګ کښې دَ هغۀ په شان شم، ١١
چه زَۀ په څۀ طریقه سره دَ مړو نه دَ پاڅیدلو درجې ته
ورسیږم.

## دَ منډې مقصد

١٢ زَۀ دا نۀ وایم چا ما وُموندل یا کامل شوم، بلکه دَ هغه
څیز دَ رانیولو دَ پاره په منډه یم دَ کُوم دَ پاره چه زَۀ مسیح
عیسیٰ نیولے یم. ١٣ زما ورُونړو! زما دا خیال نۀ دے چه
نیولے مې دے، بلکه صرف دا کوم چه کُوم څیزُونه
وروستو پاتې شول هغه هیروم، اَؤ دَ وړاندې څیزُونو دَ پاره
په مخه ١٤ دَ مقصد په طرف په منډه یم چه هغه اِنعام
حاصل کړم چه دَ کُوم دَ پاره چه مُونږ خُدائے دَ عیسیٰ
مسیح په وسیله آسمانی ژوند ته بللی یُو. ١٥ نو بیا چه په
مُونږ کښې څومره چه په رُوحانی طور بالغان دی هغوئ دِ
دا خیال ساتی، اَؤ که په څۀ خبره کښې ستاسو څۀ بل شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خیال وی نو خُدائے به هغه خبره هم په تاسو ښکاره کړی.
۱۶ بهر حال تر کُومے چه مُونږ رسیدلی یُو، دَ هغے په
مُطابق وچلیدُو.

۱۷ اَئے ورُونړو! څنګه چه زَهٔ کوم هسے تاسو هم کوئ.
مُونږ تاسو دَ پاره نمُونه یُو اَؤ څوک چه دَ دے نمُونے په
مُطابق ژوند تیروی، هغوئ په نظر کښے ساتئ. ۱۸ ځکه چه
ډیر داسے دی چه دَ هغوئ ذکر ما تاسو ته څو څو ځله
کړے دے اَؤ اوس هم په ژړا ژړا درته وایم چه هغوئ په خپل
چال چلن دَ مسیح دَ سولئ دُښمنان دی. ۱۹ دَ هغوئ اَنجام
هلاکت دے، دَ هغوئ خُدائے خیټه دے، هغوئ دَ خپل شرم
په خبرو فخر کوی اَؤ دَ دُنیا دَ څیزُونو په خیال کښے بوخت
دی. ۲۰ خو مُونږ دَ آسمان اوسیدُونکی یُو اَؤ دَ آسمان نه
مُونږ دَ خلاصوُونکی مالِک عیسیٰ مسیح په ډیر اِنتظار کښے
یُو، چه راشی. ۲۱ هغه به دَ خپل هغه قوت په وسیله په کُوم
چه هغه ټول څیزُونه خپل تابع کولے شی، زمُونږ دَ بدن فانی
شکل به بدل کړی اَؤ دَ خپل جلال دَ صُورت په شان به ئے
جوړ کړی.

## نصیحتُونه

۴ ۱ نو دَ دے دَ پاره اَئے زما خوږو ورُونړو! دَ چا چه زَهٔ
مُشتاق یم، چه زما خوشحالی اَؤ فخر یئ، په مالِک کښے
دغه شان قائم پاتے شئ.

۲ زَهٔ یُوودیه اَؤ سُنتخے ته خواست کوم چه هغوئ دِ دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک په يووالی کښې په يو زړهٔ پاتې شی. ٣ خو اَئې
رښتينی دَ خدمت ملګريه! تا ته هم خواست کوم چه تهٔ دَ هغه
ميرمنو هم مدد کوه ځکه چه هغوئ ما سره په زيری خورولو
کښې کليمينتوس اَؤ زما دَ نورو دَ خدمت ملګرو سره
خواری وکړله دَ چا نومُونه چه دَ ژوندُون په کتاب کښې
ليکلی دی.

٤ تاسو هميشه دَ مالِک په يووالی کښې خوشحاله اوسئ،
زَهٔ بيا دا وايم چه خوشحاله اوسئ!

٥ ستاسو نرم مزاجی دِ په ټولو خلقو ښکاره شی. مالِک
راتلُونکے دے. ٦ دَ هيڅ خبرې فکر مهٔ کوئ بلکه په هره
خبره کښې تاسو درخواستُونه دَ دُعا اَؤ زارئ په وسيلې دَ
شکر ګذارئ سره دَ خُدائے په حضُور کښې پيش کړئ. ٧
نو دَ خُدائے سلامتی چه دَ پوهې نه بيخی بهر ده، ستاسو
زړُونه اَؤ خيالُونه به دَ مسيح عيسیٰ په يووالی کښې محفُوظ
وساتی.

٨ نو اوس اَئے ورُونړو! څومره خبرې چه رښتيا دی اَؤ
څومره خبرې چه دَ شرافت دی، څومره خبرې چه واجبې
دی اَؤ څومره خبرې چه پاکې دی، اَؤ څومره خبرې چه
مينه ناکې دی اَؤ څومره خبرې چه ښايسته دی، غرض دا
چه کُومې دَ نيکئ اَؤ ستائينې خبرې دی، په هغو غور کوئ.
٩ کُومې خبرې چه تاسو له ما نه زده کړې اَؤ حاصلې
کړې اَؤ واؤريدلې اَؤ په ما کښې مو وليدلې، په هغو عمل
کوئ، نو هغه خُدائے چه دَ سلامتئ سرچينه دے، به تاسو
سره وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ زَهٔ دَ مالِک په یووالی کښې ډیر خوشحاله یم چه اَوس دَ
دومره مُودې نه پس ستاسو خیال زما طرف ته بیا وشو، بې
شکه چه ستاسو اول هم دا خیال وو خو موقعه په لاس نهٔ وه
درغلې. ۱۱ دا نه چه زَهٔ دَ مُحتاجئ په وجه وایم، ځکه چه
ما دا زده کړې دی چه په کُوم حالت کښې یم په هغې
کښې راضی یم. ۱۲ زَهٔ په غریبئ هم پوهیږم اَؤ دَ مال په
زیاتوالی هم پوهیږم. که زَهٔ وږے یم اَؤ که موړ، که زَهٔ غریب
یم اَؤ که مالدار، په ټولو حالُونو کښې دَ قناعت راز مې زده
کړے دے. ۱۳ مسیح چه ما ته توان راکوی په هغهٔ کښې
زَهٔ هر څهٔ کولے شم.

۱۴ بیا هم تاسو ښهٔ وکړل چه زما په مُصیبت کښې شریک
شوئ. ۱۵ اَئے فیلیپیانو! تاسو په خپله خبر یئ چه دَ زیری
په شروع کښې چه زَهٔ دَ مکدونیه نه روان شوم نو ستاسو نه
سیوا یو جماعت هم دَ ورکړې راکړې په مُعامله کښې زما
مدد ونهٔ کړو. ۱۶ لکه چه تِسلونیکیه کښې هم زما دَ حاجت
پُوره کولو دَ پاره تاسو یو وار نه، بلکه دوه ځله څهٔ رالیږلی
وُو. ۱۷ دا نهٔ چه زَهٔ اِنعام غواړم بلکه داسې غواړم چه
ستاسو په حساب کښې زیاتې راشی. ۱۸ زما سره هر څهٔ
شته بلکه زیات دی، خو چه ستاسو رالیږلی څیزُونه مې دَ
اِپفرودیتوس دَ لاسه واخستل نو موړ شوم. هغه خوشبُوئ اَؤ
قبُوله قُربانی ده چه خُدائے ئې خوښوی. ۱۹ زما خُدائے
به ستاسو هر حاجت دَ خپل بې پایانه دولت په مُطابق دَ
مسیح عیسیٰ په وسیله پُوره کړی. ۲۰ زمُونږ دَ خُدائے اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پلار جلال دِ تل تر تله وی! آمین.

## آخری سلام

٢١ ټولو پاکانو ته چه په مسیح عیسیٰ ایمان لری سلام وایئ،
اَؤ کُوم ورُونه چه اوس ما سره دی تاسو ته سلام وائی. ٢٢
ټول پاکان خصوصًا دَ قیصر د کورنۍ خلق تاسو ته سلام
وائی.

٢٣ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ ستاسو دَ رُوح سره
وی.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.